د کډوالو شورا (**Refugee Council**) یو خپلواکه خیریه اداره ده چې له پناه غوښتونکو او کډوالو سره د کار څو کلنه تجربه لري. موږ ستاسو د اړتیاو د پوره کولو لپاره په ډېرو بېلابېلو ژبو کې په وړیا ډول یو لړ خدمتونه وړاندې کوو.

## موږ څه کوو؟

په West Midlands کې د کډوالو د شورا یو ځایي خدمت (One Stop Service) په Birmingham، Wolverhampton، Stoke-on-Trent او Coventry کې له پناه غوښتونکو او کډوالو سره مرسته کوي.

موږ کولی شو چې له تاسې سره د اعاشې او اباطې د اړونده مسایلو په برخه کې چې د بریتانیې د سرحدونو ادارې؛ (UK Border Agency - UKBA) له خوا برابرېږي مرسته وکړو.

هیله ده په پام کې ولرئ چې د کډوالو شورا **UKBA** ته ستاسې د وړاندې شویو غوښتنلیکونو یا ستاسې د پناه غوښتنې د غوښتنلیک په اړه د پرېکړې په هکله مسئوله نه ده.

که چېرې ته یو داسې پناه غوښتونکی یې چې تازه انګلستان ته رارسېدلی وي، موږ کولی شو چې:

- له تاسې سره مرسته وکړو څو د اعاشې او\یا استوګنځي د ټاکلو د غوره کولو پرېکړه وکړئ او هم د حکومت د ملاتړ سیستم درته تشریح کړو.
- د وړتیا په صورت کې تاسې په لومړنۍ استوګنځي کې ځای پر ځای کړو.
- تاسې ته ووایو چې وروسته له هغې چې تاسې په انګلستان کې په کوم بل ځای کې (چې "تیتول" ګڼل کېږي) استوګنځی درکړل شي ، څه پېښېږي.
- د نورو خدمتونو په هکله چې کولی شي درسره مرسته درسره وکړي معلومات درکړو.

که چېرې تاسې یو داسې پناه غوښتونکی یاست چې له وخته لا د **UKBA** ملاتړ ورسره وي، موږ کولی شو چې:

- د داسې ستونزو په هوارولو کې درسره مرسته وکړو چې د UKBA تر سیستم لاندې منځ ته راځي.
- UKBA ستا په حالت کې له هر ډول تغییر څخه خبر کړو.
- له تا سره د استوګنځي د اړوندو ستونزو د حل په برخه کې مرسته وکړو.
- تاته د کډوالو د ټولنې د نورو سازمانونو یا ادارو په هکله چې اوږدمهاله ملاتړ وړاندې کوي، معلومات درکړو.

موږ کولی شو چې له تاسې سره د حکومت له خوا ستا د اعاشې او استوګنځي د غوښتنې د رد په صورت کې د استیناف په برخه کې مرسته وکړو. هیله ده دې ټکي ته مو پام وي چې د کډوالو شورا د استیناف د پایلې مسئوله نه ده.

### د بریتانیې د سرحدونو اداره؛
### (UK Border Agency - UKBA)

یوه حکومتي اداره ده چې د اعاشې او استوګنځایونو د برابرولو مسئولیت پر غاړه لري.

د وړتیا په صورت کې تاسې په لومړنۍ استوګنځي کې ځای پر ځای کړو.

همدارنګه موږ کولی شو چې:

- له 18 کلنۍ څخه کم عمره بېل شویو کوچنیو ته مشوره ورکړو او مرسته ورسره وکړو.
- تاسې ته وروسته له هغه چې خپل د پناه غوښتنلیک په هکله پرېکړه ترلاسه کړئ ستاسې د حقونو او امتیازونو په هکله معلومات درکړو.
- ټیلیفوني مشوره وړاندې کړو.

## که چېرې تاسې حقوقي مشورې ته اړتیا لرئ

موږ حقوقي مشورې نه ورکوو او نه حقوقي استازیتوب کوو ، خو کولای شو تاسو ته ستاسو د حقوقو او د قوانینو د معنی په اړه مشوره درکړو. که موږ نشو کولای له تاسو سره مرسته وکړو ، موږ به تاسو ته د قانوني استازیو سره د اړیکو یو لست درکړو او یا به هم تاسو هغوی ته ور وپېژنو.

### ژباړونکي

موږ د ژبې په برخه کې ستاسې د اړتیاو د پوره کولو لپاره په ساحه کې ژباړونکي او داسې کسان لرو چې په دوه ژبو خبري کولی شي.

**Pushto**



# په West Midlands کې د کډوالو شورا ( Refugee Council ) له تاسې سره څنګه مرسته کولی شي؟

## زموږ د خدمتونو د کارولو لارې

تاسې کولی شئ چې د دوشنبې، سه شنبې، پنجشنبې او جمعې په ورځو د سهار له 9:30 بجو څخه د مازیګر تر 5:00 بجو پورې زموږ Birmingham دفتر ته راشئ. زموږ دفتر د چارشنبې په ورځو بند وي.

که چیرې تاسو په **Stoke- on-Trent** کې ژوند کوئ، کولای شي زموږ له اونیز پروګرام څخه چې د جمعې په ورځ د سهار له 10 بجو څخه د ماسپښین تر 4 بجو پورې په خدمت کې دی، په لاندې پته لیدنه وکړئ:

**Refugee Council Stoke-on-Trent outreach service**
Piccadilly Centre, 59 Piccadilly,
Hanley, Stoke-on-Trent ST1 1HR

هیله ده چې زموږ دفتر ته د راتګ پر وخت خپل د UKBA او د کډوالۍ د تحقیق نور اړوند سندونه له ځانه سره راوړئ.

هیله ده په پام کې ولرئ چې: موږ د راتګ د لومړیتوب په اساس کار کوو، او کولیشو چې هره ورځ یوازې یو محدود شمېر مراجعین له مخکې څخه د ټاکلي وخت په پام کې نیولو سره وګورو. که تاسې هیله لرئ چې د خپل راتګ په ورځ درسره ولیدل شي، موږ په ټینګه سره سپارښتنه کوو چې د سهار د 9:30 او 10بجو ترمنځ وخت کې راشئ.

که چېرې ستا تحقیق بیړنی نه وي، هیله ده چې د پنجشنبې یا جمعې په ورځ زموږ دفتر ته راشئ. دوشنبه او سه شنبه زموږ تر ټولو ډېرې مصروفې ورځې دي.

که چېرې تاسې غواړئ چې زموږ د خدمت د کومې برخې په هکله شکایت وکړئ، هیله ده چې د شکایت د کړنلارې او شکایت پاڼې غوښتنه وکړئ. ټول شکایتونه به په بشپړ ډول څېړل شي.

د کډوالو د کونسل ژباړل شوي پاڼکې کولای شی له لاندی انترنیتی پاڼی نه ترلاسه کړي:

http://languages.refugeecouncil.org.uk

Published in February 2010

## زموږ پته

**Refugee Council Birmingham Office**
3 Lionel Street, Birmingham B3 1AG

د ټیلیفون مرکزي شمېره: **0121 234 1950** چې د دوشنبې، سه شنبې، پنجشنبې او جمعې په ورځو د سهار له **9:30** بجو څخه د مازیګر تر **5** بجو پورې ځواب وایي.

د مشورې کرښه: **0121 234 1971** د کاروختونه له دوشنبې تر جمعې پورې د سهار له 9:30 د ماسپښین تر 5 بجو پورې

**www.refugeecouncil.org.uk**

بسونه: 7, 16, 16A, 46, 46A, 91, 74, 79, 91, 424

اورګاډي: د New Street له تمځای څخه شل دقیقې پلی مزل او یا د Snow Hill له تمځای نه لس دقیقې پلې مزل دی. د کډوالو د کونسل دفتر د Lionel Street NCP د موټرو پارکینګ ته مخامخ پروت دی.




No: N200100132

British Refugee Council (commonly called the Refugee Council) is a company limited by guarantee registered in England and Wales, [No. 2727514] and a registered charity, [No. 101445776] Registered office: 240-250 Ferndale Road, London SW9 8BB, United Kingdom VAT reg no: 936 519 988